**ټرمپ له اټومي تړون څخه په وتلو سره اروپا او ایران دواړه ګواښلي**



**خبر:**

د ګارډین ورځپاڼې د خبر له مخې، له هغې وروسته چې ډونالډ ټرمپ له اټومي تړون څخه ووت، اروپايي اتحاديه په لټه کې شوه، چې له ايران سره يوه فيصله کونکې ناسته ترسره کړي. په دې ترڅ کې د ايران ولسمشر حسن روحاني وويل: «اروپا ډېر لږ فرصت لري چې ياد تړون وژغوري».

له هغې يوه ورځ وروسته چې د امريکا ولسمشر د ۲۰۱۵م له مهم تړون څخه ووت او خبرداری يې ورکړ، چې دی به هغو اروپايي سوداګريزو بنسټونو ته زيان واړوي چې له تهران سره سوداګرۍ ته دوام ورکوي. په ورته وخت کې اروپا ژمنه وکړه، چې د امريکا له بنديزونو څخه به د خپلو سوداګريزو بنسټونو د ساتلو لپاره کلک ګامونه واخلي.

د بهرنيو چارو وزيران غواړي تهران ډاډمن کړي، چې اټومي تړون د ژغورلو وړ دی او ياده موضوع به د دوشنبې په ورځ په لندن کې په هغې ناسته کې چې تمه کېږي د دوی ايرانی سيال جواد ظريف به هم په کې ګډون وکړي، وڅېړي.

د فرانسې د ولسمشرۍ ماڼۍ (الياسي) په يوې بيانيې کې راغلي، چې د فرانسې ولسمشر ايمانوېل مکرون په يوه ټليفوني تماس کې له روحاني سره ټينګار وکړ: « له ايران سره د شوي اتومي تړون په ټولو برخو به عمل ته دوام ورکوي». ياده بيانيه زياتوي، چې مکرون د تړون پر اهميت ټينګار کړی او ايران ته هم د تړون اهميت څرګند دی.

**تبصره:**

د منځني ختيځ د چارو هر کارپوه پوهېږي، چې ايران په سيمه کې د پردې تر شا د امريکا د موخو په لاسته راوړلو کې خپل توان نه دی سپمولی. امريکا د اوسنۍ لسيزې په پيل کې له ايران سره پر پولو، عراق او افغانستان کې

دوه ستر وحشي ښکېلاکونه ترسره کړل. ایران د امریکا د ناقانونه نېواک پر وړاندې هیڅ مخالفت ونه کړ؛ بلکې په یادو دواړو هیوادونو کې یې د امریکا د دریځ غښتلي کولو په موخه یو شمېر اړین گامونه هم واخیستل. له بل لوري د سوریې د انقلاب له پیل سره سم، امریکا د خپل گوډاگي بشار اسد له ناڅاپه نسکورېدو سره مخ شوه او همدارنگه په منځني ختیځ کې جوړ شوی ښکېلاگر بنسټ چې امریکا ته له برتانیې څخه په میراث پاتې و، له منځه تلو سره مخ شو. امریکا په یو بل ناکام ماموریت کې د خپلو عسکرو د لېږولو له وېرې مخ ایران ته وگرځاوه. خو دا ځل د تېر ځلونو پر خلاف ایران په ښکاره توگه، چې په پټه به یې د امریکا د نیواک لپاره لاره هواروله، خپل ځواکونه سوریې ته ولېږل. له همدې امله د اوباما اداره اړه شوه، چې له ایران سره خپلې اړیکې ښې کړې او گډ هر اړخیز د عمل پلان (JCPOA) یا له ایران سره اټومي تړون لاسلیک کړي. همداراز یادې چارې اروپا، د ایران د پراخو انرژیو سرچینو ته لیواله کړه. اروپا په بیړه د ایران پر وړاندې دریځ او تبلیغات پرېښودل او د ایران پر گازو او تېلو یې سترگې ښخې کړې. په ورته وخت کې ایران هم له لسیزو انزوا وروسته، د اقتصادي گټو په لیدو، د امریکا لارښوونو ته غاړه کښېښوده او د سیمه ییز نفوذ په پراخېدو کې یې هم خپلې سیاسي گټې لیدلې.
اوس که څه هم د ټرمپ اداره، ایران ته سپارل شوی کار بشپړ گڼي او غواړي چې ایران له سوریې او عراق څخه ووځي. خو له اتومي تړون څخه د ټرمپ وتنه او د نویو بندیزونو اعلانول په دې موخه وشول، چې ایران ته سزا ورکړي، ترڅو ایران فکر وکړي چې د امریکا له اجازې پرته یې په عراق او سوریه کې په خپله خوښه ځینې گټې ترلاسه کړې دي او ترڅنگ یې ایراني مشرتابه ته درس ورکوي چې ایران یوازې خپل بادار امریکا ته یوه سپارل شوې دنده ترسره کوي، نه د پیسو او مکافاتو د ترلاسه کولو لپاره. هیڅ داسې ثبوت نشته چې ایران دې له اټومي تړون څخه سرغړونه کړې وي. د امریکا وړې سترگې د اروپا په لور کږې وې، چې اروپا د سوداگرۍ له لارې له ایران څخه د گټو لاسته راوړلو هڅې پیل کړې دي. اروپا هم د چین په څېر د انرژۍ لرلو له اړخه بېوزلې ده او د نورو پر زېرمو یې تکیه کړې. ایران د انرژۍ لرلو له اړخه غني هیواد دی او د تېلو د زېرمو د لرلو له کبله د ټولې نړۍ ۱۰ سلنه جوړوي.

روحاني انگلا میرکل ته شکایت وکړ، چې ایران ته د لوېدیځوالو گټو ساتلو له امله سزا ورکول کېږي.
د پنجشنبې په ورځ، روحاني د المان له لومړۍ وزیرې سره په ټلیفوني تماس کې لاندې څرگندونې وکړې: « ایران د سیمه‌ییز ثبات او امنیت په ساتلو کې ژمن پاتې شوی، تل یې په سیمه کې د تاوتریخوالي په کمولو کې هڅه کړې او له شرطه پرته یې ډېرو شخړو ته هرکلی ویلی دی».
ده له پریس ټلویزیون سره په یوه مرکه کې وویل:« هغه جگړه چې د ایران، عراق او سوریې خلکو د داعش ترهگرې ډلې پر وړاندې وکړه، په سوریه او عراق کې یې په نسبي توگه امنیت راوست او د اروپا په گډون یې سیمې او نړۍ ته گټه ورسوله». په ورته وخت کې د اروپایي اتحادیې د بهرنیو اړیکو مشرې فیدریکا موغیرني د اروپا اقتصادي گټې تر ټولو مهمې وبللې او له یوه انټرنټي سایټ سره یې په مرکه کې وویل:« زه په ځانگړې توگه د امریکا له لوري

د نويو بنديزونو د اعلان په تړاو اندېښمنه يم. زه به په راتلونکو ساعتونو او ورځو کې له خپلو ټولو شريکانو سره د بنديزنو د ارزونې په اړه سلا مشوره وکړم. اروپايي اتحاديه ژمنه ده چې له خپلو امنيتي ګټو سره سم عمل وکړي او خپلې اقتصادي پانګې وساتي». (eeas.europa.eu)

د الله سبحانه وتعالی په نصرت سره به نږدې ډېر ژر د نبوت پر طريقه د رښتيني خلافت تاسيس ووينې، چې اسلام به پلی کوي او همدغه رڼا به نړۍ ته لېږدوي، بهرني کفار به زموږ له خاورو څخه شړي او مسلمانان به د خپلو چارو مديريت په خپله غاړه اخلي. الله سبحانه وتعالی په خپل کتاب قرآن کريم کې د منافقانو په اړه چې له کفارو سره مرسته کوي، فرمايي:

**(الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّهِ قَالُواْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُواْ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ فَاللّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً)**

[ النساء:۱۴۱]

*ژباړه: هغه منافقان چې ستاسو په باره کې انتظار کوي، نو که د الله له لورې تاسو ته فتح در په برخه شي، دوی وايي: ايا مونږ له تاسو سره ملګري نه وو؟ او که د کافرانو لپاره څه برخه وي، بيا کافرانو ته وايي: ايا مونږ په تاسو غالب شوي نه وو او ايا مونږ تاسو له مومنانو څخه بچ نه کړئ، نو الله به ستاسو په منځ کې د قيامت په ورځ فيصله کوي او الله به کله هم کافران پر مومنانو غالب نه کړي.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتی دفتر لپاره**

**ليکوال: فايق نجاح**

**ژباړن: صديق احمدزی**